د افغانستان اسلامي امارت

اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی

# د خصوصي لندمهاله او حرفوي کورسونو د چارو د تنظیم او جواز ورکولو طرزالعمل

# طرزالعمل جوازدهی و تنظیم امور کورس های حرفوی و کوتاه مدت خصوصی

کال: (۱۴۰۲) هـ ل د وري میاشت، (۱۴۴۴) هـ ق د رمضان میاشت.

حمل سال ۱۴۰۲ ه ش مطابق رمضان سال ۱۴۴۴ ه ق

## فهرست مندرجات


منظور از ترتیب ........................................ ۱
ماده اول: ........................................ ۱
شرایط تأسیس ........................................ ۱
ماده دوم: ........................................ ۱
شرایط مؤسس ........................................ ۴
ماده سوم: ........................................ ۴
شرایط مدیر مسؤل ........................................ ۴
ماده چهارم: ........................................ ۴
نصاب ........................................ ۴
ماده پنجم: ........................................ ۴
معیار های مرکز آموزشی خصوصی تعلیمات حرفوی و کوتاه مدت ........................................ ۴
ماده ششم: ........................................ ۴
شرایط استاد ........................................ ۵
ماده هفتم: ........................................ ۵
طرزتنظیم اسناد ........................................ ۶
ماده هشتم: ........................................ ۶
رعایت اسناد تقنینی ........................................ ۶
ماده نهم: ........................................ ۶
کنترول و نظارت از امور مراکز آموزشی ........................................ ۶
ماده دهم: ........................................ ۶
اخذ حق الاجرت ........................................ ۶
ماده یازدهم: ........................................ ۶
اطلاع قبلی از حالت توقف ........................................ ۷
ماده دوازدهم: ........................................ ۷
شرایط شمول یا جذب شاگرد ........................................ ۷
ماده سیزدهم: ........................................ ۷
توزیع سرتیفکت فراغت ........................................ ۸
ماده چهاردهم: ........................................ ۸
مکلفیت مؤسس، مدیر مسئول، اعضای تدریسی و اداری و شاگردان ........................................ ۸
ماده پانزدهم: ........................................ ۸
تادیب ........................................ ۸
ماده شانزدهم: ........................................ ۸
تفتیش مرکز آموزشی ........................................ ۹

ماده هفدهم: ..... ۹
پرداخت مالیه ..... ۹
ماده هجدهم: ..... ۹
گزارش دهی ..... ۹
ماده نزدهم: ..... ۹
انفاذ ..... ۹
ماده بیستم: ..... ۹

## د ترتیب موخې

**لومړۍ ماده:**

دا طرزالعمل د لاندې هدفونو د ترلاســـه کولوپه موخه ترتیب شوی دی:

۱. د لنډ مهاله او حرفوي خصوصي ښوونیزو مرکزونو په تأسیس، فعالیت او د متعلمینو او اســـتادانو په جذب پورې اړوندو چارو تنظیمول؛

۲. ښــــه کیفیت لرونکو زده کړو تـه د هېواد د وګړو لاسرسي ډېروالی؛

۳. د حرفوي زده کړو په پراختیا کې د خصـــوصـــي متشبثینو د مشـارکت او برخې اخیسـتنې لپاره زمینه برابرول، د حرفوي زده کړو لـه لارې او د بشـــري سرچینو په وسیله د هېواد اړتیاوې پوره کول.

۴. د تخنیکي او مســـلکي زده کړو اداري د حرفوي کورســـونو او خصـــوصـــي او دولتي موســـســـو ترمنځ د همکاریو پیاوړتیا لـه لارې د مهارتونو د کچې لوړول او پیاوړتیا.

## د تاسیس شرطونه

**دوه یمه ماده:**

(۱) کورني او بهرني حقیقي او حکمي اشخاص کولای شي، چې لنډ مهاله او حرفوي خصـوصـي انتفاعي یا غیر انتفاعي ښوونیز مرکزونه د دغه طرزالعمل د مادو په رعایت، له لاندې شرطونو سره سم تأسیس کړي.

۱. حقیقي شـــخص باید د تابعیت تذکره یا پاســـپورت ولري.

۲. داســـې جرم یې نـه وي کړی، چې لـه امله یې لـه سیاسي او مدني حقونو څخه محروم شي.

۳. د اړوندو فورمو ډکول

۴. له اساسنامې، تشـکیل، ښـوونیز نصـاب ( ښـوونیز پلان او درســـي مفرداتو)، مـالي او بودجوي پلان، د تمویل ســـرچینو او د ښـــوونیز مرکز د نورو کـاري طرزالعملونو له معرفي سره د اداري مقام ته د تأسیس غوښتنلیک وړاندې کول.

۵. د خصـــوصـــي لنډمهاله حرفوي زده‌کړو مرکزونو لپاره د مناسب ښوونیز ځای لرل.

۶. د موسس په نوم د رسمي بانکي حساب لرل.

۷. د حق الاجرت (فیس) اندازه مالومول.

## منظور از ترتیب

**ماده اول:**

این طرزالعمل به منظور به دست آوردن اهداف ذیل ترتیب گردیده است:

۱. تنظیم امور مربوط به تأسیس، فعالیت و شرایط پذیرش شاگردان و استادان مراکز آموزشی حرفوی و کوتاه مدت خصوصی.

۲. افزایش دسترسی اتباع کشور به آموزش‌های حرفوی خصوصی با کیفیت.

۳. فراهم نمودن زمینهٔ سهم گیری و مشارکت متشبثین خصوصی در انکشاف آموزش های حرفوی و رفع نیازمندی های کشور به منابع بشری ماهر از طریق توسعهٔ آموزش های حرفوی خصوصی.

۴. تقویه و ارتقای سطح مهارت از طریق ایجاد و تقویهٔ همکاری میان مؤسسات خصوصی و دولتی تعلیمات تخنیکی، مسلکی حرفوی.

## شرایط تأسیس

**ماده دوم:**

(۱) اشخاص حقیقی و حکمی داخلی یا خارجی می‌توانند، مراکز آموزشی حرفوی و کوتاه مدت خصوصی انتفاعی یا غیر انتفاعی را با رعایت مواد این طرزالعمل تحت شرایط ذیل تأسیس نمایند:

۱. داشتن تذکره تابعیت یا پاسپورت برای شخص حقیقی

۲. عدم محکومیت به جنایت و حرمان از حقوق مدنی و سیاسی

۳. خانه پُری فورمه های مربوطه

۴. ارایهٔ درخواست تأسیس توأم با اساسنامه، تشکیل، نصاب تعلیمی (پلان تعلیمی و مفردات درسی)، پلان مالی و بودجوی و معرفی منابع تمویل و سایر طرزالعمل های کاری مرکز آموزشی به اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی.

۵. داشتن مکان مناسب آموزشی برای مراکز آموزشی حرفوی و کوتاه مدت خصوصی.

۶. داشتن حساب بانکی مشخص و رسمی به نام مؤسس.

۷. ارائه مبلغ حق الاجرت (فیس)

۸. تحویل مبلغ پنج هزار(۵۰۰۰) افغانی از طرف اشخاص حقیقی یا حکمی داخلی مقیم داخل یا خارج

۸. د حقیقي یا حکمي داخلي شخص له لوري چې په هېواد کې یا له هېواده بهر اوسېږي د ښوونیز مرکز د تاسیس د حق الامتیاز په نوم (۵۰۰۰) افغانۍ او د خارجي شخص له لوري چې په هېواد کې یا له هېواده بهر اوسېږي (۲۵۰۰۰) افغانۍ د دولت بانکي حساب ته سپارل.

۹. د حقیقي یا حکمي داخلي شخص له لوري چې په هېواد کې یا له هېواده بهر اوسېږي (۳۰،۰۰۰) افغانۍ او د خارجي شخص له لوري چې په هېواد کې یا له هېواده بهر اوسېږي (۵۰،۰۰۰) افغانۍ بانکي تضمین سپارل. په هغه صورت کې چې ښوونیز مرکز له (۳) ډېرې رشتې ولري د هرې رشتې په مقابل کې به حقیقي یا حکمي داخلي شخص (۱۰،۰۰۰) افغانۍ او حقیقي یا حکمي خارجي شخص به (۲۰،۰۰۰) افغانۍ نورې تحویلوي.

(۲) غیر انتفاعي ښوونیز مرکزونه د دې مادې د (۱) فقرې په (۸ او ۹) جز باندې مکلف نه دي خو موسس یې د ایجاد شرطونو او معیارونو پوره کولو، د ښوونې کیفیت ته ژمنتیا او په دې کړنلاره کې د یادو شوو شرطونو د بشپړولو او تطبیق په موخه له اداري سره هوکړه لیک لاسلیک کوي.

(۳) د ښوونیز مرکز د فعالیت جواز د دې مادې د (۱) فقرې له منلو او د اداري مقام له منظورۍ او لاسلیک وروسته په اداره کې د اړوندو څانګو له خوا ثبت او صادرېږي.

(۴) مؤسس کولای شي په همدې نامه بل ښوونیز مرکز د ځای نوم یا عددونو په ملتیا په ولایتونو یا نورو ځایونو کې په دې شرط چې د فعالیت بېل جواز د دې مادې د (۱) فقرې د حکم په رعایت کولو سره تر لاسه کړي تاسیس کړي.

(۵) د ښوونیز مرکز د فعالیت جواز د هرو (۲) ښوونیزو کالونو په پای کې د اداري له هر اړخیزې ارزونې وروسته د دې مادې د (۱) فقرې له (۸) جز سره سم د حق الامتیاز د نیمایي برخې په ورکولو سره نوی کېږي.

کشور و تحویل مبلغ بیست و پنج هزار (۲۵۰۰۰) افغانی از طرف اشخاص حقیقی یا حکمی خارجی مقیم داخل یا خارج کشور به عنوان حق الامتیاز تأسیس مرکز آموزشی به حساب واردات دولت در بانک.

۹. تحویل تضمین بانکی معادل سی هزار (۳۰،۰۰۰) افغانی از طرف اشخاص حقیقی یا حکمی داخلی مقیم داخل یا خارج کشور و تحویل تضمین بانکی معادل پنجاه هزار (۵۰،۰۰۰) افغانی از طرف اشخاص حقیقی یا حکمی خارجی مقیم داخل یا خارج کشور در یکی از بانک ها. در صورتیکه تعداد رشته های درخواستی بیشتر از ۳ رشته باشد این مبلغ در مقابل هر رشته برای اشخاص حقیقی یا حکمی داخلی مبلغ ده هزار (۱۰،۰۰۰) افغانی و برای اشخاص حقیقی یا حکمی خارجی مبلغ بیست هزار (۲۰،۰۰۰) افغانی افزایش خواهد یافت.

(۲) مرکز آموزشی غیر انتفاعی از احکام مندرج اجزای (۸ و ۹) فقره (۱) این ماده مستثنی می باشد ولی موسس آن جهت تسجیل شرایط و معیارهای ایجاد، تعهد بر کیفیت آموزش، تکمیل و تطبیق شرایط پیش بینی شده در این طرزالعمل با اداره تفاهم نامه/قرارداد امضا میکند.

(۳) جواز فعالیت مرکز آموزشی پس از تائید موارد مندرج فقرۀ (۱) این ماده بعد از امضاء و منظوری مقام اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی، از طرف مراجع ذیربط در ادارۀ تعلیمات تخنیکی و مسلکی ثبت و صادر می گردد.

(۴) مؤسس می تواند مرکز آموزشی دیگر را تحت عین نام با ایزاد اعداد یا اسم محل در ولایات و سایر محلات تأسیس کند، مشروط بر اینکه جواز فعالیت جداگانه را با رعایت حکم مندرج فقرۀ (۱) این ماده کسب نماید.

(۵) جواز فعالیت مرکز آموزشی در ختم هر دو سال فعالیت، بعد از ارزیابی همه جانبه توسط اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی در بدل پرداخت نصف حق الامتیاز مندرج جزء (۸) فقرۀ (۱) این ماده، تمدید میگردد.

(۶) حقیقي یا حکمي داخلي او خارجي اشخاص کولای شي، ګډ ښوونیز مرکز د قانون له حکم سره سم تاسیس کړي. په دې حال کې د ښوونیز مرکز له مؤسسو غړو څخه یو تن یې د ښوونیز مرکز د رئیس په توګه اداري ته وروپېژندل کیږي.

(۷) مؤسس نه شي کولای د فعالیت جواز له تر لاسه کولو وړاندې ښوونیز فعالیت وکړي.

(۸) مؤسس نه شي کولای بهرنۍ کلمې یا اصطلاحګانې د ښوونیز مرکز په نوم یا نورو اړوندو خبرتیاوو کې وکاروي. بین المللي او فرعي برخې په دې حکم کې نه دي شاملې.

(۹) هر کله چې موسس و نه شي کولای د فعالیت جواز اخیستلو څخه تر شپږو میاشتو پورې فعالیت پیل کړي د فعالیت جواز یې له منځه ځي.

(۱۰) په شرطونو برابر خصوصي بهرنۍ ښوونیز مرکز کولای شي خپله نمایندګي له اداري سره د بېل هوکړه لیک پر بنسټ د دې طرزالعمل له حکم سره سم او د اداري د رهبرۍ ناستې له تصویب وروسته تاسیس یا ولېږدوي.

(۱۱) حکمي بهرنی شخص د دې مادې د (۱) فقرې، (۲) جز سربېره د لاندې سندونو په وړاندې کولو هم مکلف دی.

۱. هغه هېواد ته چې تابعیت یې لري، د تاسیس قانوني سند وړاندې کول.

۲. په هغه هېواد کې چې تابعیت یې لري د (۳) کلن بریالي فعالیت سند وړاندې کول.

(۱۲) د دې مادې (۱۱) فقره هغه مهال د اعتبار وړ ده، چې د هغې سموالی د همغه هېواد د اړوندو ادارو له لوري تائید او تصدیق شوې وي او د قانون له حکم سره سم یې پړاوونه طی کړي وي.

(۱۳) د غیر انتفاعي حرفوي زده کړو مرکزونه باید د خپلو ټولو منقولو او غیر منقولو شتمنیو لیست د تخنیکي او مسلکي اداري ته وسپاري.

(۶) اشخاص حقیقی و حکمی داخلی و خارجی می‌توانند، مرکز آموزشی مشترک را طبق احکام قانون تأسیس نمایند. در این صورت یک نفر از جمع اعضای مؤسس به حیث رئیس مرکز آموزشی به اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی معرفی می گردد.

(۷) مؤسس قبل از کسب جواز فعالیت، نمی تواند فعالیت تعلیمی داشته باشد.

(۸) مؤسس نمی تواند مصطلحات یا کلمات خارجی را در نام مرکز آموزشی و سایر اشتهارات مربوط، بکار برد. مرکز آموزشی بین المللی و فروعات آن از این حکم مستثنی است.

(۹) هرگاه مؤسس نتواند در خلال مدت شش ماه از تاریخ اخذ جواز، فعالیت خویش را آغاز نماید، جواز فعالیت وی از اعتبار ساقط می گردد.

(۱۰) مرکز آموزشی خصوصی خارجی واجد شرایط میتواند نمایندگی خویش را به اساس موافقت نامهٔ جداگانه با اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی مطابق احکام این طرزالعمل بعد از تصویب جلسه رهبری اداره، تأسیس یا انتقال نماید.

(۱۱) شخص حکمی خصوصی خارجی علاوه بر شرایط مندرج جزء ۲ فقرهٔ (۱) این ماده، مکلف به ارائهٔ اسناد ذیل نیز میباشد:

۱. ارائهٔ سند قانونی تأسیس در کشور متبوع آن

۲. ارائهٔ سند حد اقل ۳ سال فعالیت موفقانه در کشور متبوع

(۱۲) اسناد مندرج فقرهٔ (۱۱) این ماده زمانی مدار اعتبار میباشد که صحت و سقم آن از طرف ادارات ذیربط کشور مربوطه و مجاری دیپلوماتیک تصدیق و مطابق احکام قانون طی مراحل گردیده باشد.

(۱۳) مراکز آموزشی حرفوی غیرانتفاعی باید لیست تمام دارایی های منقول و غیر منقول خویش را در اختیار اداره تعلیمات تخنیکی مسلکی قرار دهد.

## د مؤسس شرطونه

### دریمه ماده:

(۱) د ښوونیز مرکز په سر کې مؤسس قرار لري چې د دې طرزالعمل له احکامو سره سم د ښوونیز مرکز اړوندو چارو مسؤلیت په غاړه لري.

(۲) د ښوونیز مرکز مؤسس باید د لاندې شرطونو لرونکی وي:

۱. د صلاحیت لرونکې محکمې په حکم له مدني حقونو څخه نه وي محروم شوی.

۲. جنایت یا اخلاقي جرم یې نه وي تر سره کړی.

۳. له اړوندو ارګانونو سره مالي مسؤلیت ونه لري.

## شرایط مؤسس

### ماده سوم:

(۱) در رأس مرکز آموزشی خصوصی مؤسس قرار دارد که از امور مربوط مرکز آموزشی مطابق احکام این طرزالعمل نزد اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی مسؤلیت دارد.

(۲) مؤسس مرکز آموزشی دارای شرایط ذیل می باشد:

۱. به حکم محکمهٔ باصلاحیت از حقوق مدنی محروم نشده باشد.

۲. به حکم محکمهٔ با صلاحیت به جنایت یا جرایم اخلاقی محکوم نشده باشد.

۳. مسؤلیت مالیاتی نزد نهاد های مرتبط نداشته باشد.

## د مسؤل مدیر شرطونه

### څلورمه ماده:

(۱) مسؤل مدیر هغه څوک دی، چې د ښوونیز مرکز تدریسي او اداري چارې او نور ښوونیز او روزنیز فعالیتونه تنظیم او اداره کوي.

(۲) د ښوونیز مرکز مسؤل به په لاندې شرطونو برابر وي:

۱. لږ تر لږه باید د بکلوریا سند ولري.

۲. د با صلاحیته محکمې په حکم به له مدني حقوقو څخه نه وي محروم شوی.

۳. جنایت یا اخلاقي جرم به یې نه وي کړی.

## شرایط مدیر مسؤل

### ماده چهارم:

(۱) مدیر مسئول شخصی است که امور تدریسی، اداری و سایر فعالیت های تعلیمی و تربیتی مرکز آموزشی را سازماندهی و اداره می نماید.

(۲) مدیر مسؤل مرکز آموزشی حرفوی واجد شرایط ذیل می‌باشد:

۱. سند تحصیلی حد اقل بکلوریا را داشته باشد.

۲. به حکم محکمهٔ باصلاحیت از حقوق مدنی محروم نشده باشد.

۳. به حکم محکمهٔ با صلاحیت به جنایت یا جرایم اخلاقی محکوم نشده باشد.

## نصاب

### پنځمه ماده:

ښوونیز مرکز مکلف دی، چې خپلې تدریسي چارې د تخنیکي او مسلکي اداري د منل شوي تعلیمي پلان او نصاب سره سم تنظیم کړي.

## نصاب

### ماده پنجم:

مرکز آموزشی مکلف است، امور تدریسی را مطابق نصاب و پلان تعلیمی تأیید شدهٔ اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی تنظیم نماید.

## د حرفوي او لنډمهاله خصوصي ښوونیزو مرکزونو معیارونه

### شپږمه ماده:

په دغه طرزالعمل کې د لنډ مهاله او حرفوي زده کړو موخه تر ډېره عملي او مهارت محوره زده کړې دي چې وخت یې متفاوت دی او د دورې په پای کې ګډون

## معیار های مرکز آموزشی خصوصی تعلیمات حرفوی و کوتاه مدت

### ماده ششم:

منظور از آموزش های حرفوی و کوتاه مدت در این طرزالعمل، آموزشهای بیشتر عملی و مهارت محور

والو ته مهارتي تصديق پاڼي ورکول کيږي. د ښوونيزو مرکزونو معيارونه په لاندې ډول دي:

۱. د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري له معيارونو سره سم مناسب ځای لرل.
۲. د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري له لوري د منل شوي درسي نصاب (ښوونيز پلان او درسي مفرداتو) لرل.
۳. د شته زده کړو مطابق په همغه برخه کې د پنځو کالو عملي کار تجربې لرونکو ماهرو استادانو لرل.
۴. د ځانګې ځرنګوالي په نظر کې نيولو سره په ټولګي کې د (۱۵ څخه تر ۲۰) تنو زده کوونکو لرل.
۵. د پوره تجهيزاتو لرونکي لابراتوار او يا ورکشاپ لرل.
۶. د اړوندهو ښوونيزو حرفو مطابق د اوريدو، ليدو او لمس کولو وړ درسي او ممد درسي موادو او لازمو تجيزاتو لرل.
۷. د اړوندو ښوونيزو حرفو مطابق ښوونيزو خامو موادو او ماشينونو مجهزو کارخونو لرل.
۸. د زده کوونکو، زده کړيالانو او کارکوونکو د امنيت او مصؤنيت ټينګښت لپاره د لازمو تسهيلاتو لرل.
۹. د لومړنيو روغتيايي کمکي وسايلو لرل.
۱۰. د اورلګېدني ضد وسايلو لرل.
۱۱. د مناسبو تشنابونو لرل.
۱۲. د ښېلو پاکو اوبو لرل.
۱۳. د ښوونيزې زده کړو مناسب ځای لرل.
۱۴. مناسب ځای لرل.

## د استاد شرطونه

### اوومه ماده:

(۱) هغه استاد چې لنډمهاله او حرفوي زده کړې ورکوي باید لږ ترلږه لاندې شرطونه ولري:
۱. په اړونده برخه کې د مهارت سند لرل.
۲. که چيرې شخص د مهارت سند ونلري، د ښوونيزې رشتې مطابق د کاري تجربې لرل.

(۲) د مهارت تثبيت د مهارتي ازموينې پر اساس کيږي، چې په مرکز کې د برنامو د تنظيم رياست او په ولايتونو کې د تخنيکي آمريت له خوا يې ازموينه اخيستل کيږي.

است که مدت آن متفاوت بوده و در ختم دوره برای اشتراک کنندگان تصديق نامه مهارتی اعطا ميگردد.
معيار های اين مرکز آموزشی که در فوق تعريف گرديد قرار ذيل ميباشد:

۱. داشتن مکان مناسب مطابق معيارهای اداره تعليمات تخنيکی و مسلکی.
۲. داشتن نصاب درسی (پلان تعليمی و مفردات درسی) تأييد شدۀ اداره تعليمات تخنيکی و مسلکی.
۳. داشتن استادان با مهارت مطابق به آموزشهای موجود با تجربۀ کار عملی در همان بخش.
۴. داشتن حداکثر (۱۵ الی ۲۰) شاگرد در يک صنف با در نظر داشت نوعيت رشته.
۵. داشتن شاپ و يا لابراتوار با تجهيزات و مواد مکمل.
۶. داشتن تجهيزات لازم درسی و مواد ممد درسی سمعی، بصری و لمسی طبق حرفه‌های آموزشی مربوط.
۷. داشتن کارگاه های مجهز با ماشين آلات و مواد خام آموزشی طبق حرفه های آموزشی مربوط.
۸. داشتن تسهيلات لازم جهت تأمين امنيت و مصؤنيت شاگردان/محصلان و کارکنان.
۹. داشتن وسايل کمک های اوليه صحی.
۱۰. داشتن وسايل اطفای حريق.
۱۱. داشتن تشناب مناسب
۱۲. داشتن آب آشاميدنی صحی.
۱۳. داشتن فضای مناسب آموزشی.
۱۴. داشتن موقعيت مناسب.

## شرايط استاد

### ماده هفتم:

(۱) استادی که درسهای حرفوی و آموزشهای کوتاه مدت را تدريس می کند بايد حد اقل دارای شرايط ذيل باشد:
۱. داشتن سند مهارتی بخش مربوط
۲. در صورتيکه شخص سند مهارتی نداشته باشد، داشتن تجربه کاری مطابق به رشته آموزشی.

(۲) تثبيت مهارت به اساس امتحان مهارتی صورت ميگيرد که در مرکز از سوی رياست تنظيم برنامه

## د اسنادو تنظیم چارې

**آتمه ماده:**

(۱) ښـــوونیز مرکز ملکف دی، چې د زده کوونکو، استادانو او کارکوونکو ټول ښوونیز سوابق او اسناد د تخنیکي او مسـلکي زده کړو اداري د تقنیني اسـنادو او لارښوودونو مطابق ترتیب او تنظیم کړي.

(۲) ښوونیز مرکز مکلف دی، چې ټول اسناد او د دې مادې د (۱) فقرې د کړنو راپور په مرکز کې د برنامو د تنظیم ریاســـت ته او په ولایتونو کې ولایتي آمریتونو ته وړاندې کړي.

## د تقنیني اسنادو رعایت

**نهمه ماده:**

ښوونیز مرکز مکلف دی، چې په اداري، تدریســـي او نورو اړونـدو چـارو کې د هېواد نـافذه قوانین، مقررې لایحې، د تخنیکي او مســـلکي زده کړو کړنلارې او د اړونده اساسنامې احکام مراعت کړي.

## د ښوونیزو مرکزونو له چارو څخه لیدنه او څارنه

**لسمه ماده:**

د تعلیمي او تحصــیلي څارنې او روزنې ریاســـت د ښـــوونیزو مرکزونو له اداري او تدریســـي چارو څخه لیدنه او څارنه کوي.

## د حق الاجرآت اخیستل

**یوولسمه ماده:**

موسس کولای شي د حرفوي زده کړو خدمتونو وړاندې کولو په مقابل کې له زده کوونکو د اســـاسنامې په نظر کې نیولو سره ، ټاکلی حق الاجرآت تر لاسه کړي.

های حرفوی و در ولایات از طرف آمریت ولایتی اخذ میگردد.

## طرزتنظیم اسناد

**ماده هشتم:**

(۱) مرکز آموزشی مکلف است، کلیه اسناد و سوابق آموزشــی شــاگردان، اســتادان و ســایر کارکنان را به اساس لوایح، طرزالعمل ها و رهنمودها اداره تعلیمات تخنیکی و مســـلکی تهیه و اجراآت خویش را مطـابق آن، تنظیم نماید.

(۲) مرکز آموزشی مکلف است، کلیه اسناد و گزارش اجراآت منـدرج فقرۀ(۱) این مـاده را در مرکز بـه ریاســـت تنظیم برنـامـه های حرفوی و در ولایات به آمریت ولایتی ارائه نماید.

## رعایت اسناد تقنینی

**ماده نهم:**

مرکز آموزشـــی مکلف اســـت در اجراآت تدریســـی، اداری و ســـایر امور مربوطه، قوانین و مقررات نافذۀ کشور، لوایح و طرز العمل های اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی و احکام اساسنامۀ مربوط را رعایت نماید.

## کنترول و نظارت از امور مراکز آموزشی

**ماده دهم:**

ریاست ارزیابی و نظارت تعلیمی و تحصیلی از امور تدریســی و اداری مراکز آموزشــی مراقبت و نظارت می نماید.

## اخذ حق الاجرت

**ماده یازدهم:**

مؤســس می تواند در مقابل عرضـــه خدمات آموزش های حرفوی از شاگردان با در نظر داشت اساسنامه، حق الاجرت معینه را اخذ نماید.

## د فعالیت له دربېدو نه وړاندې خبر ورکول.

**دوولسمه ماده:**

(۱) هغه مهال چې ښوونيز مرکز له عذر پرته ونه شي کولای خپلو ښوونيزو فعاليتونو ته ادامه ورکړي، موسس مکلف دی چې د فعاليت له دربېدو څخه (۳) مياشتې مخکې د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري استادانو، کارکوونکو او زده کوونکو ته خبر ورکړي او د فعاليت له دربېدو يا منحل کيدو څخه وروسته د ښوونيز مرکز ټول اداري او ښوونيز اسناد د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري اړوندو رياستونو ته په رسمي ډول تسليم کړي.

(۲) موسس مکلف دی، چې د فعاليت له دربېدو يا منحل کيدو څخه وړاندې ټول مالي او حقوقي حسابونه او چارې له اړوندو اړخونو سره پاک کړي.

(۳) د تخنيکي او مسلکي اداره د د ښوونيز مرکز د معاش ورکولو، حقوقي مسئلو او مالي ژمنو په اړه کوم مسؤليت نه لري.

(۴) هر کله چې مؤسس د ښوونيز مرکز د منحل کېدو په صورت کې د دې مادې د (۱) او (۲) فقرې مکلفيتونه مراعات نه کړي د دې کړنلارې د (۲) مادې د (۱) فقرې د (۹) جز مطابق مالي تضمين د زده کوونکو د زده کړو په موخه لګول کيږي.

(۵) د دې کړنلارې په (۲) ماده، (۱) فقره، (۹) جز کې ياد شوی مالي تضمين په هغه صورت کې ښوونيز مرکز ته ورکول کيږي، چې موسس يې د دې مادې د (۱) او (۲) فقرې احکام مراعت کړي.

(۶) په هغه صورت کې چې ښوونيز مرکز له يو تن څخه ډېر د موسس غړي ولري د ښوونيز مرکز د منحل کېدو يا فعاليت دربېدو په اړه د ټولو غړو موافقه په ليکلي بڼه حتمي او اړينه ده.

(۷) د غير انتفاعي ښوونيز مرکز د منحل کېدو په صورت کې د ښوونيز مرکز لېږدېدونکي او نه لېږدېدونکي شتمني د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري مال ګڼل کيږي.

## د زده کوونکي د شموليت يا جذب شرطونه

**ديارلسمه ماده:**

د زده کوونکي د شموليت يا جذب شرطونه شموليت شرطونه، د اړوند لايحو او طرزالعملونو مطابق د زده کوونکي د پياوړتيا په اساس په نظر کې نيول کيږي.

## اطلاع قبلی از حالت توقف

**ماده دوازدهم:**

(۱) در صورتی که مرکز آموزشی نتواند بنابر عذر مؤجه به فعالیت های آموزشی خود ادامه دهد، مؤسس مکلف است سه ماه قبل از توقف فعالیت به اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی، استادان، سایر کارکنان و شاگردان اطلاع داده و بعد از توقف فعالیت و یا انحلال، کلیه اسناد اداری و آموزشی مرکز آموزشی را به ادارات ذیربط تعلیمات تخنیکی ومسلکی رسماً تسلیم نماید.

(۲) مؤسس مکلف است، قبل از توقف فعالیت یا انحلال مرکز آموزشی کلیه امور مالی و حقوقی آنرا با جوانب ذیربط تصفیه نماید.

(۳) اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی در برابر پرداخت مزد، مسایل حقوقی و تعهدات مالی مرکز آموزشی، مکلفیت ندارد.

(۴) هرگاه مؤسس در صورت انحلال مرکز آموزشی مکلفیت های مندرج فقره های (۱ و ۲) این ماده را رعایت ننماید تضمین مالی مندرج جزء(۹) فقرۀ(۱) مادۀ دوم این طرزالعمل به منظور ادامۀ آموزش شاگردان به مصرف می رسد.

(۵) تضمین مندرج جزء (۹) فقرۀ (۱) مادۀ دوم این طرزالعمل در صورتی به مرکز آموزشی اعاده می گردد، که احکام مندرج فقره های (۱ و ۲) این ماده از طرف مؤسس رعایت شده باشد.

(۶) در صورتی که مرکز آموزشی بیشتر از یک نفر اعضای مؤسس داشته باشد جهت توقف فعالیت یا انحلال مرکز آموزشی موافقۀ کتبی تمام اعضای مؤسس حتمی می باشد.

(۷) در صورت انحلال مرکز آموزشی غیر انتفاعی، دارایی‌های منقول و غیر منقول مرکز آموزشی به اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی تعلق می گیرد.

## شرایط شمول یا جذب شاگرد

**ماده سیزدهم:**

شرایط شمول یا جذب شاگرد به اساس توانمندی‌های شاگرد مطابق لوایح و طرزالعمل های مربوطه در نظر گرفته شود.

## د فراغت تصدیق پاڼو وېش

**څوارلسمه ماده:**

(۱) ښوونیز مرکز مکلف دی، چې د فراغت تصدیق سپینې پاڼې د تخنیکي او مسلکي زده کړو له اړوندو ادارو څخه تر لاسه کړي.

(۲) د ښوونیز مرکز فارغینو ته د فراغت سند ښوونیزو اسنادو په شتون کې د پړاوونو له وهلو او د اداري مقام له منظورۍ او ټاپه کولو وروسته د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د نماینده له لوري ویشل کیږي.

## د مؤسس، مسؤل مدیر، تدریسي او اداري غړو او زده کوونکو مکلفیتونه

**پنځلسمه ماده:**

مؤسس، مسؤل مدیر، اداري او تدریسي غړي او زده کوونکي مکلف دي، چې د دې کړنلارې احکام او تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري نور تقنیني اسناد مراعت کړي.

## تادیب

**شپاړسمه ماده:**

(۱) د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره کولای شي، مؤسس د ښوونیزو خصوصي مؤسسو د مقررې او د دې کړنلارې له احکامو څخه د سرغړونې په صورت کې په لاندې ډول تادیب کړي.

۱ توصیه .

۲ په لیکلي بڼه اخطار.

۳ د قانون مطابق نورو تادیبي مواردو.

(۲) د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره کولای شي، چې ښوونیز مرکز د دې مادې د (۱) فقرې مواردو د تکرار په صورت کې د شکایتونو اورېدو او د شخړو حل کمسیون له تائید وروسته بند او یا یې جواز له منځه یوسي (لغو) یې کړي.

(۳) په هغه صورت کې چې ښوونیز مرکز د تخنیکي او مسلکي زده کړو مقررو او د دې طرزالعمل له احکامو څخه سرغړونه وکړي د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره حق لري چې د ښوونیز مرکز د فعالیت جواز و ځنډوي، قضیه د تعقیب او وروستی پرېکړې په موخه د شکایتونو اورېدو او شخړو حل کمسیون ته وسپاري.

## توزیع سرتیفکت فراغت

**ماده چهاردهم:**

(۱) مرکز آموزشی مکلف است سند فراغت (سرتفیکیت) سفید را از مراجع ذیربط اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی دریافت نماید.

(۲) برای فارغان مرکز آموزشی سند فراغت (سرتفیکیت) در موجودیت اسناد آموزشی بعد از طی مراحل، مهر و منظوری ریاست تنظیم برنامه های حرفوی توزیع می گردد.

## مکلفیت مؤسس، مدیر مسئول، اعضای تدریسی و اداری و شاگردان

**ماده پانزدهم:**

مؤسس، مدیر مسئول، اعضای تدریسی و اداری و شاگردان مرکز آموزشی مکلف اند، احکام مندرج این طرزالعمل و سایر اسناد تقنینی مربوط اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی را رعایت نمایند.

## تادیب

**ماده شانزدهم:**

(۱) اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی می تواند، مؤسس را در صورت تخلف از احکام مقرره مؤسسات تعلیمی خصوصی و این طرزالعمل حسب احوال، ذیلاً تأدیب نماید:

۱. توصیه.

۲. اخطار کتبی.

۳. سایر موارد تادیبی مطابق قانون.

(۲) اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی می تواند، مرکز آموزشی را در صورت تکرار موارد مندرج فقرهٔ (۱) این ماده بعد از تأیید کمیسیون سمع شکایات و حل منازعات مسدود و یا جواز آن را سلب نماید.

(۳) در صورتیکه مرکز آموزشی مقررات اداره تعلیمات تخنیکی ومسلکی و احکام این طرزالعمل را نقض نموده باشد، اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی حق دارد جواز مرکز آموزشی را تعلیق نموده، قضیه را جهت پیگیری و فیصله نهایی به کمیسیون سمع شکایات و حل منازعات بسپارد.

## د ښوونيز مرکز پلټنه

**اوولسمه ماده:**

د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداره کولای شي، په کال کې لږ تر لږه يو ځل د ښوونيز مرکز د مالي عوايدو پلټنه د مخکينۍ خبرتيا له مخې يا له هغې پرته ترسره کړي.

## د ماليي تاديه:

**آتلسمه ماده:**

(۱) ښوونيز مرکز مکلف دی، چې د هر مالي کال په پای کې د قانون مطابق خپل مالي عوايد په ټاکلي وخت تاديه او د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري ته په رسمي ډول خبر ورکړي.

(۲) غير انتفاعي ښوونيز مرکزونه له دغه حکم څخه متستثني دي.

(۳) ښوونيز مرکز مکلف دی، چې د استادانو او نورو کارکوونکو له معاشونو څخه د قانون د احکامو مطابق ماليه واخلي او د دولت بانکي حساب ته يي تحويل کړي.

## راپور ورکول

**نولسمه ماده:**

ښوونيز مرکز مکلف دی چې د هر ښوونيز کال په پای کې خپل فعاليتونه د راپور ورکولو فورمي مطابق چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري له لوري ترتيبيږي، د اداري اړونده څانگي ته وړاندي کړي.

## نافذيدل

**شلمه ماده:**

دغه طرزالعمل په شلو مادو کې ترتيب او د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري د مقام له منظورۍ وروسته د پلي کېدو وړ ده.

## تفتيش مرکز آموزشی

**ماده هفدهم:**

اداره تعليمات تخنيکی و مسلکی می تواند، عوايد مالی مرکز آموزشی را حد اقل سالانه يک بار با اطلاع قبلی يا بدون آن، تفتيش نمايد.

## پرداخت ماليه

**ماده هجدهم:**

(۱) مرکز آموزشی مکلف است، مطابق احکام قانون در ختم هر سال مالی، ماليات عوايد خويش را به وقت معين تأديه و در زمينه به اداره تعليمات تخنيکی و مسلکی رسماً اطلاع دهد.

(۲) مرکز آموزشی غير انتفاعی از اين حکم مستثنی ميباشد.

(۳) مرکز آموزشی مکلف است از معاش استادان و ساير کارکنان مربوط، مطابق احکام قانون، ماليه وضع نموده و به حساب واحد دولتی تحويل نمايد.

## گزارش دهی

**ماده نزدهم:**

مرکز آموزشی مکلف است، در ختم هر سال تعليمی، فعاليت های خويش را طبق فورم گزارش دهی که توسط اداره تعليمات تخنيکی و مسلکی ترتيب می گردد، به مرجع مربوط اداره ارايه نمايد.

## انفاذ

**ماده بيستم:**

اين طرزالعمل در بيست ماده ترتيب و بعد از منظوری توسط رئيس اداره تعليمات تخنيکی ومسلکی، مرعی الاجرا ميباشد.

استاد احمد نبی نائل
مشاور تخنیکی مقام

مولوی محمدشاه میر غوری
مشاور حقوقی مقام

حبیب الله شیروانی
آمر هماهنگی با سکتورخصوصی

عبدالمتین شریفی
آمرنصاب تعلیمی و عضو کمیته

رحمت الله مسجدی
آمر تنظیم کورس های حرفوی

عبدالرحمن رحمانی
آمر ثبت حرفه و تدارک مواد خام

محمد فواد هاشمی
عضومسلکی انستیتیوت های خصوصی

محراب الدین وهاب زاده
مدیرعمومی انستیتوت های خصوصی

مولوی عبدالودود هوتک
رئیس تنظیم برنامه های حرفوی

مولوی نیک محمد نیکمل
رئیس پلان و هماهنگی استراتژیک

منظور کننده
مولوی غلام حیدر شهامت
رئیس اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی

تأیید کننده
مولوی غلام سعید احساس
معاون تخنیکی اداره و رئیس بورد انسجام امور اکادمیک